(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# افغانستان: د ۲۰۱۰ کال اګست او سپتمبر

**Author:** IWPR

د افغاني رسنیو مشران وايي د آی ډبلیو پي آر ریپوټونو په ولایتونو کې پر واقعیت بانديې د هغوی له پوهېدو سره مرسته کړې

په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریالانو لیکنه

د افغانستان د خپلواکو رسنیو یو لوړ پوړي چارواکي له پلازمینې کابل څخه ۳۵ کیلومتره وړاندې د وردګو په ولایت کې د طالبانو د زیاتیدونکی ځواک په اړه د آی ډبلیو پي آر یو ریپوټ "واقعا پیاوړی" بللی دی.

په نوموړي ریپوټ کې چې، ځایي رادیو او ورځپاڼو خپور کړی، ویل شوي، یاغیانو [د ولسوالیو] له مرکزونو بهر څنګه پراخې سیمې تر خپل ګورت لاندې راوستي او د یو شمېر ځایي اوسیدونکو د وینا له مخې یې په سیمه کې [له حکومت سره] موازي اداره رامنځته کړې ده.

نوموړی ریپوټ ځینو رادیوګانو لکه، د "سپوږمۍ"، "ازادۍ"او "کلید" او د ناټو تر مشرۍ لاندې د نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) د "ازادۍ غږ" په نامه رادیو او همدارنګه د "سرنوشت"، "ویسا"، "ارادې" او" آګاه" د خپرونو په ګډون یو شمېر ورځپاڼو خپورکړی دی.

د رادیو ګانو او همدا راز د ورځپاڼو چلوونکو وویل، د اګست د ۲٦ نېټې ریپوټ د هغوی اوریدونکي او لوستونکي په هغو ننګونو پوهولي چې په وردګو کې د نظم په تامین کې نړیوال او افغان ځواکونه ورسره لاس او ګریوان دي.

له کابل او کندهار څخه د سپوږمۍ په نامه د یوې خپلواکې خپرېدونکې رادیو مشر، حمید ناصري وویل: "ما پر وردګو بانديې د طالبانو د کنترول په اړه ریپوټ پرله پسې دوې ورځې خپور کړ. هر سهار زما لومړنۍ دنده د آی ډبلیو پي آر د ویب پاڼې لیدل دي؛ ځکه دا پاڼه تر ټولو ډېر ښه ریپوټونه خپروي."

د آزادۍ د رادیو استازي، محمد امین مدقق وویل، د آی ډبلیو پي آر ریپوټونه په عمومي توګه د توازن او کره توب له پلوه د هغوی د رادیوي خپرونو لپاره په زړه پورې دي. نوموړي وویل: "موږ تل [د] آی ډبلیو پي آر [ویب پاڼه] ګورو او له ریپوټونو یې کار اخلو."

د باختر آژانس پخواني رئیس او د ژورنالستانو د دفاع د کمېټې اوسني مشر، ضیا بومیا وویل، د آی ډبلیو پي آر ریپوټونه د افغان او نړیوالو رسنیو، دواړو لپاره ارزښتمنه سرچینه ده..

هغه وویل: "کله چې د یوې موضوع په اړه معلوماتو ته اړتیا پیدا کړم، نو آی ډبلیو پي آر ته مراجعه کوم. ځکه د هغې ریپوټونه له معلوماتو او حقایقو څخه ډک او له هر ډول تبعیض او تعصب څخه پاک دي."

عادي افغانانو د وردګو په اړه د ریپوټ هرکلي کړی، وایي نورې ځایي رسنۍ د سیمې وضعه او حالت په سم ډول نه څیړي.

د وردګو د ولایت د قومي عالي شورا یو غړي، انجنیر محمد رحیم، چې له ازادۍ رادیو څخه یې نوموړی ریپوټ اوریدلی، وایي: "کله چې مې ریپوټ واورید، حیران پاتې شوم [غوښتل مې ویوهیږم] دا کومه موسسه ده، چې په دې ولایت کې یې د داسې یو ربښتیني ریپوټ د خپرولو جرات کړی دی.": .

نوموړي زیاته کړه: "افغان رسنۍ په توکمیزو اوژبنیو ناندریو کې ښکېل دي او په زیاترو هغو یې څوک باور نشي کولای. د آی ډبلیو پي آر ریپوټ پر واقعیت ولاړ دی چې تر اوسه پورې یې چا د خپرولو جرات نه و کړی. زه د آی ډبلیو پي آر د ریپوټونو ستاینه کوم."

د ګل محمد په نامه د کابل یو اوسیدونکي وویل: "کله چې مې له رادیو څخه د آی ډبلیو پي آر ریپوټ واورید، نو ټکان مې وخوړ او د غفلت له خوبه یې راویښ کړم. له ځان سره مې فکر وکړ، چې که طالبان د وردګو پر ولایت کنټرول لري، نو [کېدای شي] ډېر ژر کابل ته راورسیږي. موږ باید د خپل راتلونکی په اړه فکر وکړو."

**Location:** افغانستان
**Topic:** Elections

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%AF-%D9%A2%D9%A0%D9%A1%D9%A0-%DA%A9%D8%A7%D9%84-%D8%A7%DA%AB%D8%B3%D8%AA-%D8%A7%D9%88-%D8%B3%D9%BE%D8%AA%D9%85%D8%A8%D8%B1-0